درویش وردک

۰۳ فبروری ۲۰۱۶

## یوولسم مجلس (دخدای په پیژنده کی)

دجمعی په ورځ سهارد ۵۴۵ هجری قمری کال دشوال دمیاشتی په نولسمه شیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

(ای قومه) خدای وپیژنی اوله ده ځخه مه غافلیږی. دده فرمانبرداری وکړی اوله نافرمانی ځخه لیری اوسی. دخدای غوښتنوته غاړه کښیږدی اوداوامروسره یی مخالفت مه کوی.

خدای پاک د هغه دصنع پواسطه وپیژنی. دی روزرسوونکی ښښتن دی، دی اول دی اوآخر، ظاهردی اوباطن، دی ازلی اوابدی قدیم دی، پرهرکارچی اراده وفرمایی قادردی.( **لایسال عما یفعل وهم یسالون**) دی ځواکمن کوونکی اودرویش گرځونکی دی. دی ژوندی کوونکی اومړکوونکی دی، دی بازخواست کوونکی او پاداش ورکونکی دی، همدی دی چی باید له عِقابه یی وډارشواوالطافو ته یی امیدوار اوسو. پس له خدایه وبیریږی اونه له غیره. خدای ته امیدواراوسی نه غیرته، خپل ځان دده دقدرت اوحکمت سره سازګاره کړی، ترڅوچی یی قدرت(لطف اواحسان) پرعدل ظفروموموی، اومونږ ته په عدل سره پاداش رانکړی، بلکه مشمول دخپل احسان اوالطافو مو وګرځوی.

دغفلت له تیاری ځخه دمعرفت رڼا ته راشه، ترڅوستاسو اوخدای ترمنځ پردی لیری شی. دشرعی له پولو تیری مه کوی، هغه څه چی دشرع معنی اوربینتینوالی دی ترسره یی کړی، نه دهغی ظاهری صورت، البته یوڅوپه شمیرکسان دی مرحلی ته رسیږی. مونږ اړتیا نلرو چی دشرعی له دایری ووزو. ولی هرڅوک پدی نه پوهیږی، جزهغه کسان چی هلته وردننه شوی وی، ځکه یوازی په لنډه خبرتیا(آگاهی مجرد) ربښتینی پیژندگلوی ته نه رسیږی.

په ټولو کړواوچاروکی په رسول اکرم(صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) پسی تأسی وکړی. ملاتړی دده داوامرو په ترسره کولوکی حاضر اوسی، اوله هغه څه نه چی یی نهی کړی یاست ډډه وکړی، ترڅومطلق فرمابرداره تاسو دده خواته راوبولی، زیارت ته بیړه وکړی.

ابدال ځکه ابدال بولی چی دوی دخدای عزّ وجلّ پرغوښتنه هیڅ شی نه وربادی کوی اودخدای پروړاندی له ځانه اختیارنلری. اول په ظاهره حکم کوی، اودکړو په ظاهره بوخت وی. بیا پرمختګ کوی اوپه دی مرحله کی یی امراونهی دیریږی اګرکه په ظاهره غایب وی.

بالاخره هغه ځای ته رسیږی چی داوامرو په ترسره کولو اوله نواهیو څخه په لیری والی کی دشرعی یووړ ادب هم نه ترپښو کوی، اوهیڅکله ځانته اجاذه نه ورکوی ترڅودشرعی یو حد مهمل(بی ځایه) پاته شی. ځکه دمفروضه عباداتو ترک کول کفراوزندیقه ده. اودمحظوراتوارتکاب معصیت اوګناه ده. هیڅکله اوپه هیڅ حال کی فرایض له چاڅخه نه ساقط کیږی، بلکه هرڅومره چی بنده دقرب احساس کوی همدومره یی دمسولیتونو پیټی درنیږی.

(ای بنده) دخدای په حکم اوعلم عمل وکړه، خپل عهد مه هیروه اودشرعی له حدودو سرغړونه مه کوه، دننی نفس اوشیطان سره مبارزه وکړه، دخدای عزّ وجلّ له لطف څخه مه ناامیده کیږه، ځکه هغه تل ثابت قدمانو سره مرسته کوی. لوی خدای فرمایی: (اِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِیْنَ)-«خدای له شکیبایانو سره دی»، اوبیا فرمایی: (فَأِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الغالَبُون)-«هماغه دخدای حزب بریالی دی»، اوبیا داسی فرمایی: (وَالَّذِینَ جَاهَدوا فِیْنا لَنَهْدِیَنَّهُم سُبُلَنا)-«هغه کسان چی زمونږ په لاره کی زیاروباسی، مونږ دوی خپلی لاری ته هدایت کوو».

دخلکو پروړاندی خپله ژبه له شکوی اوشکایت څخه وساته، دخدای درضا لپاره دهغوخلکوسره چی دخدای دامرخلاف عمل کوی دښمن واوسه، خلک دخدای بنده ګی اودمعصیتونو څخه لیری والی ته راوبولی. دوی دنفس له پیروی اودبدعت له رامنځ ته کولوڅخه لیری وساتی، اودکتاب اودرسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) سنتوپیروی ته وهڅوی.

(ای قومه) دخدای دکتاب احترام وساتی اوعمل پری وکړی، ځکه قرآن دخدای عزّ وجلّ سره ستاسو دپیوستون وسیله ده، هغه مخلوق مه ګڼی. متعال خدای فرمایلی: دازما کلام دی! تاسومه وایی چی نه؟ څوک چی دخدای دقول څخه انکاروکړی اوقرآن مخلوق وبولی کافردی.اوقرآن له ده بیزاره. داقرآن لوستل کیږی، اوریدل کیږی اوپه مصاحفو کی لیکل کیږی. امام شافعی اوامام احمدحنبل( رضی الله تعالی عنهما) وایی: قلم مخلوق دی، لیکنه هم مخلوق دی، زړه هم مخلوق دی، ولی هغه څه چی لیکل کیږی اوزړه ته سپارل کیږی غیرمخلوق دی.

(ای قومه) منقول مسایل باید دعقل پواسطه وسنجول شی، اودصریح اودنص مسایل نباید په قیاس سره ردکړو. ددعوی په هوارولو کی دشاهدڅخه سترګی مه پټوی اوپه مجرده دعوی حکم مه کوی. دخلکو مال پرته له ګواه اوبینی څخه نشی اخیستل کیدای. رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم ) فرمایی: (اَخْوَفُ مَا اَخَافُ عَلَی اُمَّتِی مِنْ مُنَافِقٍ عَلِیمُ اللَّسانِ)-« دخپل امت لپاره ترټول له هغه ویروونکی څیزنه چی دخپل امت په هکله تری ډاریږم، دوه مخی زبان آور(ژبه ور) دی».

ای پوهانو، ای نادانانو، ای حاضرینو، ای غائبینو، له خدای وشرمیږی.خپلوزړو ته وګوری، دخدای خواته راوګرځی،اوپروړاندی یی سرټیټی اوسی. دمقدراتودګوزارونوپروړاندی ځانونه په صبراوشکیبایی عادت کړی. اودنعمت پروخت یی شکرانه اداء کړی. دخدای په بندګی کی ورځ ،شپه کړی. هرکله که دغه مساله درته تحقق پیداکړی، دخدای له طرفه به هم ددینا اوآخرت په بزرګی اواعزازمفتخرشی.

(ای دخدای بنده) زیاروباسه ترڅوپه دنیا کی پداسی شی زړه ونه تړی چی دخدای له یاده دی غافل کړی. که داحالت درته پیداشو، نوربه دی دنفس په ولکه کی نه پریږدی، هرکله که له هیری سره مخ شی ، نو خبردرکوی، اوهرکله که دغفلت په خوب ویده شوی نو ویښوی دی. اجازه نه درکوی چی پرته له خدایه بل چاته پام واړوی. هرچاچی ددی حالت مزه وڅکله نوخدای یی پیژندلی. ولی دادګوتوپه شمارکسان دی چی پرخلکو زړه نه تړی. ای دوه مخیو! بلاو اوآفاتوستاسو پرزړو سیوری اچولی.

هغه قوم چی دباطن په سترګو پرته له خدایه بل کس ته نه ګوری، خپل روحی آرامش یی پکی پیداکړی. هوساینه اوراحت یی دحق ترڅنګ موندلی. ددی قوم داعتراض ژبه لنډه ده. ورځی، شپی، میاشتی اوکلونه تیریږی اودوی په همدی حالت کی ثابت پاته کیږی. دوی ترټولو هوښیارخلک دی. هرکله که دوی ووینی نو داسی به وانګیری، چی دوی دحق لوری ته په منډو دی، اووایی به آیا دوی په حق ګرویده ګان دی؟ دوی دخدای دلاری اندوهګنان اوزړه ماتی دی.

اوتل له عاقبته په ویره کی. هرکله که دالهی عظمت اوجلال نقاب تری لیری شی ددوی ویره اودارلانورهم زیاتیږی. وایی به چی زړونه یی سره شلیدلی دی، اوبند بند یی سره جلا کیږی. هرکله چی متعال خدای دوی په دی حالت کی وګوری، بیانو دخپل رحمت اوبزرګی دروازی ددوی پرمخ پرانیزی اودوی دخاطرآرامش ته رابولی.

ډیرمی خوښیږی چی د دینادوستانواوآخرت غوښتونکو مخوته وګورم، ددنیادوستانو اوهواپرستانو لپاره څه کولای شم؟؟ پرته لدی چی دمداوا په غم کی یی اوسم، ځکه دوی بیماران دی،اوپرته له طبیبه څوک ددوی پرمداوا اودمرض پرمعالجی صبرنشی کولای.

حیرانی ده! ته پرخپله اراده خپل درونی رازله ما پټوی، ولی هغه زه وینم. پوهیږم چی ددینا غوښتونکی یی اوکه دآخرت طلبګاریی. داستا درونی رازدی ولی آثاریی ستا پرتندی ښکاره دی. هغه درهم اودینارچی په لاس کی یی لری، ناروا اوبی ارزښته دی اوپه هغی کی یو دانګ طلااونورنقره دی، ماډیری داسی قلبی اوناسره سکی لیدلی، هغه ماته راتسلیم کړه ترڅویی په قالب کی واچوم اوخالص له ناخالصه درته څرګند اوبیل کړم، ځکه لږښه له ډیرو بدو بهتره دی.

دنیا افکاراواندیښنی دی زما په اختیارکی کښیږده، ځکه زه ددی کارصراف اوصریف یم، داډه اوسه داسی وسایل په لاس کی لرم چی خالص اوناخالصه سره بیلوم. هغه وسیله څه شی ده؟ توبه ده، له ریا اونفاقه توبه وکاږه، اودهغی په اقرار شرمنده مه اوسه، خکه غالب له مخلیصینو نه هغه کسان و چی په مخکی له توبی منافق و اودتوبی په مرسته داخلاص مرحلی ته رسیدلی. دی خبری ته په کتوسره یوه له بزرګانو داسی فرمایلی: «له ریاکاره پرته څوک رېښتینی اخلاص نه پیژنی» ډیرکم به وی ،چی څوک په پیل اوپای کی خالص اوصادق پاته شوی وی.

دماشومانو مثال راوړم، لومړی په خاورو اوکثیفوشیانو کی لوبی کوی، دروغ وایی، ځان له ګواښ سره مخ کوی، له پلاراوموره غلاکوی، ولی چی رفته رفته بیا لوی شی نو له پلارموراوښوونکوڅخه سرمشق اخلی، اوکه دخدای لطف یی دحال شامل وګرځی، له هغه څه نه چی پکی و، لیری کیږی. ولی که دحق دعنایت مشمول ونه ګرځی نو په هماغه حال کی پاته کیږی.

متعال خدای رنځ اودوا دواړه پیداکړی، ګناه رنځ دی اوطاعت دواده، ستمګری درد دی اوعدالت دوا، خطا رنځ ده اوصواب دوا، دحق دامرمخالفت رنځ اوله ګناهونو څخه توبه دواده. که غواړی چی ددی ټولو رنځونو دوا پیداکړی، نودزړه له کومی خلکوته دغوښتنی(نیاز) له لاس نیونی څخه سترګی پټی کړه، اوخدای ته مخ راواړوی. هغه وخت دی چی روح به دی دآسمانونو خواته والوزی، پداسی حال کی چی کورکلی اوځالګی به دی پرځمکه وی.

زړه دی خالصانه دحق په خدمت کی وساته اودخلکو سره په عمل کی مشارکت کوه، اودشرعی احکامو په ترسره کولوکی له دوی سره مخالفت مه کوه،ترڅو دخدای اومخلوق له لوری پرتا حجت پاته نشی. په زړه سره دخدای لورته ورشه اوپه ظاهره دشرعی داوامرو په ترسره کولو کی دخلکو سره مل شه. خپل نفس په خپل واک کی وساته اومه پریږده چی دربادی واکمن شی،که لږ غفلت هم وکړی نو دځمکی دی غوزاروی. که دخدای له طاعته یی سرغړونه وکړه نو دلوږی، تندی، خواری، عریانی خلوت اوبیوازیتوب په قمچینه یی تأدیب کړه.

دامتروکه دده له سره مه ایسته کوه، ترڅوچی داډ ترلاسه کړی چی دخدای په اطاعت کی یی قرارنیولی، اوغروریی دحق داوامرو په ترسره کولو کی مات شوی. کله چی دنفس داطمینان(داډ) دی مرحلی ته ورسید، هغه وخت به ستا ظاهراوباطن سره یوشی، سرترپایه به موافقت وګرځی اوله هرډول مخالفت نه به لیری وی. اوطاعت پرته له معصیته، شکرپرته له کفره،به ستا شعاراوکړه وګرځی. پرته له هیری ذکر،اوپرته له شره به دخیر نصیب شی. ولی په یاد یی لره چی یوازی کله چی دپرته له خدایه بل څه په زړه کی پاته نشی، بشپړ خلاصون ته به ونه رسیږی.

که زرکاله په سره ریگ خدای ته په سجده پروت وی، ولی زړه دی بل ته ځیروی، دغه زرکلنه سجده درته گټه نشی رسولای. څوک چی دمولانه غیردبل چا مهرپه زړه کی ساتی، کوم ځای ته نه رسی، مگریوازی چی ټولی اړیکی پری کړی. له دنیاڅخه زهد درته څه گټه رسوی، پداسی حال کی چی په باطن کی ورته علاقمندیی، مگرنه پوهیږی چی متعال خدای دبندگانو له زړو خبردی؟ آیا له دی څخه چی په ژبه پرخدای متوکل یی ولی په زړه ، غیرله ده غواړی، شرمنده نه یی؟؟

(ای دخدای بنده) دخدای په حلم مه مغروره کیږه، پوه شه چی الهی عذاب سخت اودردناکه دی. دهغی علماو چی دخدای په پیژندنه جاهل دی،په خبرو مه تیروزی. ددوی ټول علم ددوی په زیان دی، اوکومه گټه ورته نه راځی. دوی دخدای احکام پیژنی ولی خدای نه پیژنی، خلک نیکو اعمالو ته رابولی، ولی خپله عمل نه پری کوی، نوردگناهونو له ارتکابه منع کوی ولی خپله په گناه لاس پوری کوی. خلک دخدای لورته رابول ولی خپله له خدایه لیری وی. دخدای سره دمعاصی په کولو سره مبارزه کوی. ددوی نمونه زماسره لیکلی اوپراته دی.

لویه خدایه! زما اوددوی توبه ومنه، مونږستا گران رسول اوآب الانبیاء، ابراهیم خلیل ته وبښه. خدایه ځینی مو پرځینو نورو مه لاس بری کوه، اوټول یوبل ته گټوروگرزوه، اودخپل رحمت ترڅنگ ځای راکړه. آمین!

«وآتنا فی دنیا حسنة وفی الآخرة حسنة وقنا عذاب النّار».